مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوديال

۲۰۲/۰۹/۱۶

# اروپا کې له کتاب او مطالعې سره حيرانوونکې مينه

## (ځوانانو سره د زړه خواله)

## ۲

څو ورځې مخکې د سواد د ورځې په مناسبت زما يوه ناچيزه ليکنه نشر شوه. يو شمېر ځوانانو پوښتنه وکړه چې څه وکړو، ترڅو مطالعې سره عادت شو؟ په ټولګې کې به مې چې محصلانو ته کورنى دنده سپارله، دوى به شکايت کاو چې د څو کرښو په لوستلو سره سر راباندې ګرځي، کورنى دند نشو اجرا کولاى. فيسبوک کې چې ليکنه( مقاله) له پنځو- شپږو کرښو زياته شي، ځوانان يې نه لولي او انتقاد کوى، چې ليکنه اوږده ده. زه به په دغې ليکنه کې چې ستاسي ترمخې ده، د مطالعې د عادت کېدو لپاره خپله تجربه وليکم، خو بايد په درناوي سره عرض وکړم چې ليکنه دځوانانو، په تېره د محصلانو لپاره ده، د درنو مشرانو قيمتي وخت نه ورباندې ضايع کوم. دا کومه څېړنه نه، بلکې سرګذشت او سترګو ليدلی حال دی:
په داسې يو کورني چاپېريال کې را لوى شوم چې کتابونه پکې پريمانه وو. ښوونځي کې تر شموليت مخکې د پلار او بابا له کتابونو سره بلد وم. زياتره ديني کتابونه، پنج کتاب، حافظ... او نور وو. همدا وخت راته پلار دليک لپاره په سياهي د الفبې توري ليکل او جومات کې مې سيپاره لوستله. کله چې شپږکلن وم، د کب وروستيو کې چې لاهم د ديوالو سيوري ته يو قد واوره پرته وه، پلار د زاړه ښار د "سردار جانخان لومړنى ښوونځى" ته روان کړم. دښوونځي اداره دوهم پوړ کې وه. زما همزولي، ډېر نور هلکان او نجونى هم د اداري مخه کې وو. پلار راته د هڅووني په موخه وويل : دا ټول ستا ټولګيوال دي. ته به يې اول نمره وى. زه ډېر خوشحاله شوم. کله چې وار راغى، پلار مې سرښوونکي سره خبرې وکړې او زما دوه فوري عکسونه يې ورته کېښودل. په هغه سبا مې مشر ورور سره د معارف وزارت لومړى پوړ کې د لومړى ټولګې د کتاب د پيرودلو لپاره ولاړم. دا وروسته تر سيپارى زما لومړنی خپل کتاب و. اول لوست يې وروروسته تر بسم الله الرحمن الرحيم څخه:
(آب ، او آب داد ، آب دادن ثواب دارد.) و.
له تورو سره بلد وم، دا مې ډېر اسانه ولوستل، خو ورپسې نور درسونه : طاهر خياط است او يک شادى دارد. غوث فالوده را خوش دارد... په پاى کې "ترانه بيرق" او "ترانه استقلال" راته سخت وو، دا مې بيا د اوړي تر ورځو ټول زده شول...
تر دې مخکې مې کورکي پښتو دلومړى ټولګې کتاب لوستى و :
آس ، دا آس دى، دا د دادا آس دى...
کله چې دښوونځي ابتدائيه دوره پاى ته ورسيده، د حبيبې د ليسي زده کوونکى شوم. دا وخت د حبيبي د ليسي کتابتون، عامه کتابتون، ډپوهنتون مرکزى کتابتون، دمحصلانو د کلوپ کتابتون، د خانه علم وفرهنګ کتابتون، دعلومو د اکاډمى کتابتون او آن د خطى آثارو ارشيف راته تر ټولو ښايسته او غوره ځايونه وو. بهرنيو سفرونو کې خامخا په کتابتونو ګرځېدم، ځان ته مې کتابونه خوښول.
***
نن د ويسمار د ښار عامه کتابتون کې ناست وم، انترنيت مې هم فعال کړى و، چې ورو مې خواته د کتابتون ماموره راغله او په اشاره يې پوه کړم چې يوه بجه ده او کتابتون دوه ساعته تړل کيږي. زه د سهار له لسو بجو تر دې وخته ساعت ته نه وم ځير، ما فکر کاو لس - يوولس به وي، خو رېښتيا هم چې څلور دقيقى يوې ته پاتې وې، په بيړه پاځيدم، کتابونه، پاڼي، قلم او ليتاب مى ټول کړل او وتلو ته چمتو شوم. له نورو ميزو هم خلک پاځيدلي وو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په غور و لولئ

د ویسمار د ښار کتابتون اونۍ کې یوه ورځ رخصتي لري، نور هره ورځ پرانیستی وي. اونۍ کې دوه ورځې له یوې تر څلورو تړل کیږي، بیا د شپې تر اتو پورې پرانیستی وي، خو د روز بوخم پوهنتون کتابتون چی ما پکې دیارلس کاله مخکی سبق وایه، د شپې تر دولسو پرانیستی و، برلین کې دپوتسدام پوهنتون کتابتون شپه او ورځ پرانیستی و، صرف د کارکوونکو د کار شفتونه بدلیدل. د برلین سخت ژمي کې تر ټولو تود ځای، د پوتسدام د پوهنتون کتابتون و، چې ۲۴ساعته یې مرکز ګرمي روښانه وه. محصلان به د لوست په تکرار، د مونوګرافونو په بشپړولو، د کورنیو دندو او صنفی پروژو لپاره پکې بوخت وو. دا یواځې کتابتون نه، بلکې بهر نیو هیوادو کې په ټرن، تمځای، لاره... هرځای خلکو سره یو کتاب وي او په لړ وزګاریدو سره یی لولي. په تیره بیا اروپا کې رومانونه ډیر لوستونکی لري. دوی ورسره سخت عادت دي. د دیجتل، آنلاین او بریښنایی کتابو ترڅنګ، لاهم چاپی(کاغذی بڼه) کتاب خپل ارزښت، په زړه پورې والی او اهمیت ساتلی دی. د سفر او پارکونو ته د راوتلو پرمهال مشهور رومانونه اونالونه دوی سره وي .
د رومان او ناول لوستلو دوی له مطالعې سره عادت کړي، افاقی معلومات یی زیات شوي، عواطف یې تلطیف، د ژوند شیبې یې متنوع او خوندورې، د افادې، خبرې کولو او استدلال قوت یی پیاوړی او د حافظی توان یی ورته اوچت کړی دی. وطن او خپل تاریخ او ملی مشاهیرو او مفاخرو سره یې تعارف ورزیات کړی او ډیرې نورې ګټې . که ریښتیا ووایو؛ اروپا او امریکې کې لیکل شوی ادبی آثار( خصوصاً نثر لکه لنډه کیسه، طنز، رومان، ناول، یونلیک...) ډېر په زړه پورې او بوختوونکې دي. متاسفانه موږ تراوسه پښتو کې د شعر تر څنګ؛ نثر او په تېره ناول، رومان، طنز، خاطره، لنډه کیسه او یونلیک لږ لرو .دا ډول آثار له پورتنیو ګټو برسیره، د ژبې د بډاینې او صیقل کیدو لامل هم کیږي، خو دلته هم لیکوال او هم لوستونکی د ناول او رومان او نورو نثري اثارو مطالعې او کیفیت ته ځیر ندي .
پښتو شعر او نظم د ادبی نثر په پرتله ډیر لرغونتوب لري. څومره چې رومان د نړۍ د بیلابیلو ژبو ادبیاتو کې جاذبه، اغېز او مینه وال لري، پښتو ورڅخه بې برخې ده. موږ ډیر لږ داسې داستان، رومان او ناول لرو چې تخیُیل، داستانی نثر او دکیسې تخنیک پکې رعایت او عالی روایت پکې بیان شوی وي. په همدې خاطر د ادبی نثر لوستونکې کم دي. پښتانه که ادبیات لولی هم، یواځې په شعر اکتفا کوي اونثري ادبی اثار لږ لولي. له همدې امله د دې ډول اثارو پنځوونکی هم لږ لرو او لیکلو ته یې انګیزه ډیره کمه ده. که دا علتونه نه وای، اوس به زموږ پښتانه د کلتوری بډاینې، د افاقی معلوماتو، پوهې، تاریخی آګاهی، تحلیل، استدلال او شعور، عواطفو او مطالعی سره عادت او ډیرو نورو ښېګڼو څخه به بې برخې نه وو. له بده مرغه زموږ ځوان نسل له دې پلوه یوه (تاریخی جبر) سره مخامخ دی. دغه اوسنۍ ستونزې په خپله دا ثابتوي چې دغه جبر د ځوانانو ژوند څومره بې خونده او وروسته ساتلی دی. څومره چې راته ثابته شوې، د اروپاییانو او امریکایانو ژوند کې ناول، رومان، یونلیک، د خاطرو کتابونو، طنز او نورو نثري آثارو د خلکو د نوښت دقوت، زغم، مدنیت، تفکر، خلاقانه ظرفیت، فکری ازادی او اعتلا، روحی تلطیف، رواني تسکین او هوسایی سره ډیره مرسته کړی ده .
که ځوانان د خپلو ظرفیتونو د اوچتولو، له مطالعې سره د عادت، د لوستلو د مهارت سمون، د مغزو او حافظې د تکړښت، د بیان او افادې د قوت، د افاقی پوهې او نړۍ لید د پراخولو او بیځایه چرتونواو خیال پلوونو او عبثو افکارو څخه د ژغورنې لپاره، د دغه ډول اثارو مطالعې ته وخت او ارزښت ورکړي، زموږ لیکوال او ناشرین به هم وهڅول شی او په مجموع کې به زموږ د ژبې او کلتوری غنا او پرمختیا لامل شي .
دلته د ویسمار عامه کتابتون کې د جرمنی لیکوالو رومانونه ډېرزیات دي، لکه: ف.دورنمات، هرمان هسه(دنوبل ګټونکی)، انازیګرس، برشت، ګونترګراس(چې ۱۹۹۹ کې یې د نوبل جایزه ګټلې ده)، ج.هیالی او ډېر نور. د دوی له رومانونو څخه په زړه پورې سریالونه جوړ شوی دي، چې تلویزیون کې هم ښودل کیږی او DVD یې هم پریمانه پلورل کیږي. د یو څو نومونه یی دا دي: ساندرا برون، دکوډوغر، لویدیز کې څه خبره نشته، سیدارتا، دا کور زما دی او نور. د اسپانیایی، روسی، انګلیسی او امریکایی نالونو جرمنی ژباړی ډېرې لږ دي.
په دې صنعتی دور کې رومان لا هم دخلکو د پام وړ ادبی ژانر دی. په کورونو، پارکونو، تمځایونو،ټرِنونو او کتابتونو کې نیم خلک د رومان په لوستلو بوخت وي. د دوی په لیدو کتاب او رومان لوستو ته د سړي آرمان او د مطالعی شوق ورشی، هغه چې موږ ورڅخه محروم او ورسره علاقه نه ښیو. موږ به ترڅو داسې یو؟ راځئ ځان مطالعې سره عادت کړو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ